# إِذَا أَتَيْتُمُ الغَائِطَ فَلاَ تَسْتَقْبِلُوا القِبْلَةَ، وَلاَ تَسْتَدْبِرُوهَا وَلَكِنْ شَرِّقُوا أَوْ غَرِّبُوا»، «کله چې د حاجت رفع کولو ځای ته لاړئ نو قبلې ته مخ يا شا مه اړوئ، بلکې، ختيځ او يا لوېديځ لوري ته شئ

له ابو ايوب الانصاري رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «إِذَا أَتَيْتُمُ الغَائِطَ فَلاَ تَسْتَقْبِلُوا القِبْلَةَ، وَلاَ تَسْتَدْبِرُوهَا وَلَكِنْ شَرِّقُوا أَوْ غَرِّبُوا»، «کله چې د حاجت رفع کولو ځای ته لاړئ نو قبلې ته مخ يا شا مه اړوئ، بلکې، ختيځ او يا لوېديځ لوري ته شئ» ابو ايوب وويل: نو موږ شام ته لاړو، ومو ليدل چې کنارابونه قبلې لورې ته جوړ شوي وو، نو موږ به ترې کږېدلو، او له الله تعالی څخه به مو بخښنه غوښتله.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم هر هغه څوک چې د وړوکي يا لوی حاجت رفع کولو اراده ولري قبلې ته له مخ يا شا کولو څخه منع کړی دی، بلکې ختيځ او يا لوېديځ لورې ته ترې بايد کوږ شي، البته که چېرته يې قبله د مدينې د خلکو د قبلې په څېر وي. بيا ابو ايوب رضي الله عنه وويل چې کله دوی شام ته لاړل نو ويې ليدل چې د حاجت رفع کولو لپاره کنارابونه د قبلې لورې ته جوړ شوي دي، نو دوی به خپل ځانونه د قبلې څخه کږول او لدې سره به يې د الله تعالی نه بخښنه غوښتله.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3078